مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۴/۳۰

# د سوزېدلو غوښنو بوی

د لیوه او ګیدړ ګیله دا وه، چې زمری یوازې پرځنګله حکومت کوي او دوی ته یې په واک کې د ګډون ځای نه دی پرېښی.

د واک تندې عقل ترې وتروړه. ويې پتپیله؛ ځنګل ته اور واچوي او د زمري واکمني پای ته ورسوي.
پر ځنګله چې لمبې بلې شوې، تول ژوي وتښتېدل، لیوه او ګیدړ لا لګیا ول، چې اور د زمري کور ته ورسوي ...

یو مهال؛ ځنګل له ژویو تش شو. لیوه او ګیدړ خه کوري، چې د اور په لمبو کې راګیر شوي دي.
هرخومره چیغې یې چې ووهلې، څوک یې مرستې ته رانغلل... خدایزده چې زمری وسوزېد که نه؟
خو دوی دواړه لولپه شول .

***

د ژویو له قول و عمله لرغوني تمثیلي نکلونهFables ، په تېره بیا د لرغوني هیندي فېلوسوف (ببدپا) تلپاتې اثر، کرینکا و دمنکا (کلیله و دمنه)، د سیاستپوهنې پخواني پاخه درسونه دي .

***

بلاتشبیه...

واکمنی ته تږیو !

په هره بیه، واک و ځواک ته د رسېدو ګروم (عقده) هومره مه لویوئ، چې په تش کې یې افغانستان ته اور واچوئ، تر هرچا وړاندې به تاسو وسوزئ!

***

**سپېرمې کش کړئ، په ۱۳۷۰ مو کلونو کې د سوزېدلو غوښنو بوی لا هم شته.**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ